مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۳/۰۷

## د ښځې د نړیوالې ورې په مناسبت:

### ښـــــــځـــه

چې ورکوی ژوند ته اروا هغه جزبه ده ښځه
له مینې جوړه ده له اوره هم توده ده ښـځـه

غزل غزل ده ښکلی ښکلی ده ښکلا نه جوړه
چې حسرتونه سوځوی هغه لمبه ده ښـځـه

لری په زړه کی ولولي د محبت ولولي
په عمر څوانه که پخه او که زړه ده ښځه

سختو میچنو د زمان هم میده کړې نه ده
په نرم خوي کې د الماس کلکه دانه ده ښځه

په اورکی ځان سیځي خوما اوتا له اوره ژغوری
رب«ج» پیداکړی له ازله پروانه ده ښځه

چې یی لیمو ته کلیواله رسیدای نشی گرد
له هری کرکې نه خالي هغه کعبه دی ښځه

د څپو پخ سر له کتاب څخه
مارچ / ۲۰۱۰/۵
کنگستون ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ